مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

۲۰۲۰/۱۰/۱۲

Jeffry j. Roberts
مترجم: عبدالباري جهاني

# افغانستان په دوهم نړی وال جنګ کي
# The Origins of the Conflict in Afghanistan
## شپږم فصل
### دریمه برخه

## او د لېنکېستر د پلان ربیني

نادرشاه په ۱۹۳۱ کال کي له برتانيي څخه پوښتنه وکړه چي د ده پر هيواد باندي د شوروي د حملي په صورت کي به برتانيه څه وکړي؟ د برتانيي حکومت، په دې برخه کي، د ضمانت ورکولو سره چنداني علاقه ونه ښودله؛ ځکه دوی فکر کاوه چي د افغانستان له شمالي ولايتونو څخه، د شورويانو د يرغل په مقابل کي، اصلاً دفاع کېدلای نه سي. دوی داسي احساس کاوه چي که افغانستان هر څومره ښه دفاعي قوت ولري بيا هم شورويان، په ډېره اسانی، هغه سيمي نيولا سي. پر دې برسېره، برتانيي په افغانستان کي هيڅ داسي اقتصادي او سياسي ګټي نه درلودې چي افغانستان ته يې دغه راز تضمين ورکړی وای. خو برتانيي که څه هم چي هيڅ ضمانت ونه کړ مګر يو ډول نرم دريځ يې غوره کړ او وي ويل چي د افغانستان د خاوري تماميت ته ارزښت ورکوي او که هغه هيواد تهديد متوجه کيږي نو دوی به په جدي نظر ورته وګوري. په افغانستان کي د برتانيي د سفير سر ريچرډ ميکوناشي Sir Richard Maconachie رسمي جواب دا وو چي دوی فکر نه کوي شورويان به پر افغانستان باندي حمله وکړي. خو دونه يې وويل چي پر افغانستان باندي د شوروي اتحاد هر ډول حمله به د برتانيي ګټو ته خطر وګڼل سي؛ او که برتانيه له هغوی سره پوځي مقابله ونه کړي نو اقتصادي بنديزونه به وربادي ولګوي او ډيپلوماتيک فشارونه به وربادي واچوي.

د ۱۹۳۰ په لسيزه کي، افغانستان د ډېرو نورو هيوادونو په څېر، په بين المللی تنظيمونو کي غړيتوب، د خپل امنيت لپاره، يو ډول تضمين باله. په ۱۹۳۴ کال کي، د ملتونو اتحاديي ته د شوروي اتحاد له شاملېدلو څخه لږ وروسته، افغانستان هم ور شامل سو. که څه هم چي د حبشي د بحران په حلولو کي د دې موسسي ناکامېدلو د افغانستان اعتماد سست کړ؛ خو افغانستان د ګډ امنيت له مفکورې څخه مخ ونه ګرځاوه.

د ۱۹۳۷ کال د جولای پر اوومه، د افغانستان، ايران، عراق او ترکيي استازو د سعدآباد تړون لاسليک کړ. دا د يرغل نه کولو او دوستی تړون وو؛ او د افغانستان لپاره لومړنی او وروستنی تړون سو. د سعدآباد د تړون په اساس، به غړو هيوادونو د سيمه ايزو جنجالونو پر سر سلا مشورې سره کولې او دغه راز يې د دې تړون څخه دباندي هيوادونو د يرغل پر مسله باندي بحثونه کول. د دغه پکټ غړو هيوادونو يوه بل ته په داخلي چارو کي د مداخلي حق نه ورکاوه او د ورانکارو په ځپلو کي يې له يوه بل سره همکاري کوله. که څه هم چي د دې پکټ ټول غړي پر شوروي اتحاد باندي، د فاشيستانو د حملي په صورت کي، بې اعتماده وه؛ خو شوروي او برتانيي دواړو د سعدآباد پکټ منظور کړ.

څرنګه چي افغانستان داسی يوه تړون ته شامل سوی وو چي د ټولي اسلامي نړۍ يووالي يې غوښت؛ نو د حکومت دې اقدام، په هيواد کي دننه، محافظه کار عناصر يو څه کرار کړل. ضمنا يې دا احتمال کم کړ چي د سيمي کوم هيواد دې د امان الله خان د بيرته ستنېدلو ملاتړ وکړي. دې پکټ دغه راز کلتوري او اقتصادي تماسونه زيات کړل او، د لنډ وخت لپاره يې، د ايران او افغانستان تر منځ سرحدي لانجه کراره کړه. بالاخره د دې پکټ د غړيتوب په نتيجه کي له افغانستان سره د ترکيي د پوځي مرستو کولو لاره هم هواره سوه. تر ۱۹۳۹ کال پوري، ترکيي په افغانستان کي ښه زيات شمېر پوځي سلاکاران درلودل. د سعد آباد پکټ، که څه هم چي يو وړوکی ګام وو، د غړو هيوادونو ترمنځ د سياسي او اقتصادي اهدافو د اشتراک ښکارندوی وو. دې ټولو هيوادونو، د شوروي اتحاد په جنوبي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پوله کې، د یوه اسلامي بلاک د جوړولو ملاتړ کاوه. یوه امریکایی مقام دا پکټ، د بغداد د پکټ د جوړېدلو لپاره یوه مقدمه وبلله البته په وروستي پکټ کې افغانستان شامل نه سو.
که څه هم چې د هاشم خان حکومت غوښتل چې پر سیمه ایزو امنیتي تدابیرو باندي غور وکړي خو د دې تر څنګ یې د افغانستان د پوځي قواوو د تقویه کېدلو تلاښ هم کاوه. که څه هم چې د افغانستان د اولسونو ګیریلایی مقاومت د هر یرغلګر په مقابل کې یو لوی مدافع مورچل وو خو د نادرخان د عصري کولو پروګرام دغه مورچل نور هم غښتلی کړ او د هیواد داخلي امنیت یې ورسره بهتر کړ. هاشم خان تر ۱۹۳۹ کال پوري د پوځي اکاډیمي تعلیمي نصاب ته توجه وکړه او په هغې کې یې د توپچي، سپاره او پیاده څانګې زیاتي کړې. دغه راز یې هند، شوروي اتحاد، ترکیې، ایټالیې، جرمني اوجاپان ته افسران د روزني لپاره واستول. تقریبا ۱۵۰ ترکي صاحب منصبانو، څو تنو جرمنیانو او ایټالویانو په افغانستان کې د پوځیانو روزنه کوله. هوایي قوه پراخه سوه یو څو میکانیزه او موټوریزه قطعې جوړي سوې او د لوژیستیک څانګه تاءسیس سوه.
په دې وخت کې د برتانیې یو شمېر مقامات له افغانستان سره د پوځي مرستو د زیاتولو لپاره راغلل. ځینو خوویل چې افغانستان ته باید، د خپل داخلي امنیت د ټینګولو او قبایلو د مقاومت د ځپلو لپاره، د ماشین ګن، ټانکونو او الوتکو په شمول، عصري وسلې ورکړه سي او په دې وسیله د هند امنیت تقویه سي. خو کله چې هاشم خان، په ۱۹۳۵ کال کې، له لندن څخه د دوه نیم میلیونه پونډو پور غوښتنه وکړه، برتانیې د ده پېشنهاد رد کړ. شواهد ښیي چې برتانیې د افغانستان دا پېشنهاد زیاتره د خپلو اقتصادي ستونزو او مالي بحران له امله رد کړ او عامل یې دا نه وو چې دا وسلې به د قبایلو لاسونو ته ولوېږي نو ځکه یې له افغانستان سره د زیاتو پوځي همکاریو پېشنهاد قبول نه کړ.
کله چې برتانیې له افغانستان سره پوځي مرسته ونه کړه نو هاشم خان نورو هیوادونو ته مراجعه وکړه. که څه هم چې جاپان، ترکیې، ایټالیې، پولینډ، چکوسلواکیې او ایران هم دغه ته ورته جواب ورکړ خو جرمني په ډېره خوښي د همکارۍ کولو ژمنه وکړه. د افغانستان او جرمني اړیکي د نادرخان په وخت کې خړ پړ سوي وه. کله چې جرمني د نادرخان د ورور محمدعزیزخان قاتل، افغانستان ته ونه سپاره او له یو څه ځنډ څخه وروسته یې پخپله اعدام کړ، نو د افغانستان له حکومت سره دا اندېښنه پیدا سوه چې د جرمني حکومت لا هم د امان الله خان طرفداري کوي.
د افغانستان او جرمني اړیکي، د نازیانو د قدرت نیولو سره، بهتر سول. څرنګه چې جرمني په لومړي نړیٔ وال جنګ کې ظاهراً د اسلام طرفداري کړې وه او داسي ښکارېده چې هغه هیواد په اسیا کې د امپریالیستي نقشو د تعقیبولو توان نه لري نو افغانستان ته له هغه هیواد سره د اړیکو ټینګول، په سیاسي لحاظ، بهتر وه. د جرمني شخصي ډیسیپلین، د ټکنالوجی تخصص او په سختو شرایطو کې، په لږو تنخواوو، د ګوزارې کولو مسلې د افغانستان مشران په دې قانع کړي وه چې د هغه هیواد څخه مرستي واخلي. بالاخره د هیټلر حکومت، د برتانیې او نورو لوېدیځو متحدینو په خلاف، د پور ښه شرایط درلودل او د پیسو پر ځای یې اومه مواد قبولول او غوښتل یې په دې توګه په افغانانو کې خپل سیاسي نفوذ زیات کړي. د ۱۹۳۶ کال په وروستیو شپو ورځو کې د افغانستان او جرمني حکومت، د هیټلر د خاص هدایت سره سم، یو پټ پروتوکول سره لاسلیک کړ چې له افغانستان سره د اقتصادي همکاریو د زیاتولو او د وسلو ورکولو ژمنه یې کړې وه. په ورپسې کال یوه بله موافقتنامه لاسلیک سوه او د جرمني د ټاډ موسسې Organization Todt ته یې د سړکونو د جوړولو او هوا ګرځني د تسهیلاتو د انکشاف حقوق ورکړل او د جرمني نورو موسسو ته یې په افغانستان کې د طبیعي منابعو د پلټلو او نورو صنعتي انکشافاتو امتیاز ورکړ. وروسته د ۱۹۳۹ کال د اګسټ په میاشت کې دواړو هیوادونو یوه لس کلنه جامع اقتصادي موافقتنامه لاسلیک کړه چې، د هغې په اساس، جرمني له افغانستان سره د اقتصادي او پوځي مرستو تر ټولو مهم هیواد سو. د دوهم نړیٔ وال جنګ په درشل کې، په افغانستان څه باندي سلو جرمني تخنیکي ماهرانو د مختلفو تجارتي پروژو نظارت کاوه او نورو صاحب منصبانو یې پوځیان او پولیس ورته روزل.
د جرمني او افغانستان دې قراردادونو برتانیه عمل ته وهڅوله. هاشم خان او د اقتصاد وزیر عبدالمجید زابلی په ۱۹۳۷ کال کې لندن ته ولاړل او ۵۰۰ زره پونډه انکشافي پور یې ترلاسه کړ، چې تر یوه ځایه پوري یې د جرمني د تعهداتو په مقابل کې یو ځای ډک کړ. ضمناً، د افغانستان حکومت، د شوروي د یرغل څخه پرله پسې وېري، له برټانوي هند سره ستراتیژیکو همکاریو ته هڅاوه. افغانستان ته د خپلو تحقیقاتو په نتیجه کې معلومه سوه چې برتانیې د پولینډ د خاوري د تمامیت ضمانت کړی دی نو دوی هم برتانیې ته مراجعه وکړه او د ۱۹۳۹ کال په مابین کې د دواړو هیوادونو ترمنځ د متقابلي همکارۍ تړون لاسلیک سو. برتانیې له افغانستان سره عملي اتحاد ځکه ونه کړ چې ویل یې هسي نه چې شوروي اتحاد ولسمول سي او بیا دوی دونه زور نه لري چې د هغه د یرغل او تهدید په مقابل کې له افغانستان سره مرسته وکړي. برتانیې، بیاهم د دوهم جنګ له پیل کېدلو څخه مخکې میاشتو کې، پر افغانستان باندي وسلې او جنګي الوتکي وپلورلې او ژمنه یې وکړه چې پوځیان به یې ورته وروزي. د دواړو هیوادونو لویو درستیزانو، د افغانستان د پوځ د عصري کولو او د هند په دفاعي پلان کې د افغانستان د شاملولو په باره کې، یو پټ تړون لاسلیک کړ؛ چې په وروسته کې به افغانستان د هند څخه د دفاع کولو لپاره په لومړیٔ کرښه کې وي.
د روسانو او نازیانو ترمنځ د پکټ په نتیجه کې، د افغانستان وېره دونه زیاته سوه چې حتی هاشم خان په دې فکر کې سو چې برتانیې ته په کابل او هرات کې د پوځي قشلو د اچولو اجازه ورکړي. سره له هغه چې پر افغانستان او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هند باندي د شوري د لوژيستيکي تياري په باره کي هيڅ ډول شواهد موجود نه وه مګر برتانيي دغه حمله بيخي د يوه واقعيت په حيث فرض کړې وه. په ۱۹۳۹ کال کي، پر فينليند باندي د شوروي د يرغل څخه وروسته، د برتانيي دوه صاحب منصبان جنرال جي اين مولزورث G.N. Molesworth او مېجر اې ايس لينکيستر A.S Lancaster کابل ته ورسېدل او د افغانستان د پوځ تفتيش يې وکړ. مولزورت وويل چي پوځ ښه او پوره مشران نه لري. ده وويل چي د افغانستان صاحب منصبان ټګان، ټنبل، ناپوه او نالايقه دي. هغسي چي دوی له هره اړخه نيمګړي دي دغسی يې د جنګ پلان هم نيمګړی دی او په يوه شپه کي يې جوړوي. د دوی د وسلو غوښتني تر اندازه تېري دي او ليست يې ډېر اوږد دی. مولزورت وليکل چي دوی ته که عصري وسلې لاسته ورسي نو لکه ماشومان چي، په بې احتياطی سره، د لوبو ارزښتناکه سامانونه ماتوي دغسي به دوی هم له وسلو سره لوبي کوي. ده وويل چي د افغانستان پوځ تش په نامه لښکر دی چي هيڅ ډول ارښت نه لري. او که د نيژدې راتلونکي لپاره، دې پوځ ته څوک په تمه وي نو دا د وخت او پيسو ضايع کول دي. مولزورت د خپل رپوټ په پای کي وويل چي که پر افغانستان باندي يرغل وسي نو خلک به يې مقاومت وکړي او غواړي چي زموږ سره ملګرتوب وکړي. ده وويل چي له دوی سره د اوږدې مودې موافقنامي لاسليکول ښايې ښې سياسي نتيجې ورکړي او توصيه يې وکړه چي، که په افغانستان کي وسايل او افسران موجود وي، نو برتانيه د وسلو مرستي ورسره وکړي.

د ۱۹۴۰ د لسيزي په سر کي، د برتانيي خارجه وزارت توصيه وکړه چي هاشم خان ته په ټېه يو تضمين ورکړه سي چي که چيري د شوروي قواوو يرغل ورباندي وکړ نو دوی به يې ملاتړ وکړي؛ حتی له هند څخه به د پوځونو او هوايي قوې لازمه مرسته ورسره وکړي. خو دوی دا ومنله چي د شمالي سرحد د ساتلو په برخه کي هيڅ ډول ضمانت نه سي ورکول کېدلای. د جنګ کابينه هم په دغه عقيده وه چي د افغانستان د سرحدونو ساتل ممکن نه دي او په دې برخه کي هغوی ته هيڅ ډول تضمين نه سي ورکول کېدلای. صدراعظم وينستن چرچل بالاخره فيصله وکړه چي هاشم خان ته د برتانوي وسلو د خريداری اجازه ورکړي او د تخنيکي مرستو او د عسکرو د روزلو ژمنه ورسره وکړي. چرچل دغه راز پر دې خبري ټينګار وکړ چي د افغانستان د خاوري تماميت د برتانيي لپاره ډېر زيات اهميت لري او که د هاشم خان له حکومت سره مرسته وسي نو هغه به قبايل آرام کړي، د محور د هيوادونو نفوذ به کم کړي او له نورو اسلامي هيوادونو سره به د برتانيي اړيکي بهتر کړي.

ستالين، د فرانسي له سقوط څخه وروسته، د جرمني پر دې غوښتنه غوږ ونه نيوی چي ويل يې د فارس په خليج کي د متحدينو له کمزوری څخه ګټه واخلي او له مرکزي اسيا څخه خپل عسکر هغي سيمي ته ولېږي. کله چي پر افغانستان باندي د شوروي د يرغل کولو خطر ليری سو نو له افغانستان سره د جرمني ډېرو پراخو اړيکو د برتانيي او افغانستان اړيکي ساړه کړل. جرمنيانو، د برتانيي د کمزوره کولو په منظور، هاشم خان ته پېشنهاد وکړ چي که پر هند باندي حمله وکړي نو په عوض کي به د درانيو امپراطوري ورته را ژوندی کړي. د جرمنيانو لومړيو بريالیتوبونو د افغانستان ځيني حکومتي مشران په دې عقيده کړل چي د روسيې د سقوط په صورت کي د جرمني په غوښتنه عمل وسي. د مثال په ډول عبدالمجيد زابلي څو ځله پېشنهاد وکړ چي که جرمنيان زموږ د شمالي پولو د ساتلو تضمين کوي، عصري وسلې را کوي او تر اباسين پوري خاوره راکوي نود برلين، بغداد او کابل محور دي جوړ سي.

که څه هم چي افغانستان ته د عصري وسلو او نورو موادو د رسولو امکانات د جغرافيايی او لوژيستيکي امکاناتو له امله ډېر ليري وه خو د محور له هيوادونو سره د افغانستان دغه راز اړيکو برتانيه په غوسه کوله. دغه راز يې له برتانيي سره د افغانستان د اقتصادي اړيکو پر دوام باندي هم بده اغېزه کوله. د برتانيي ځيني مقامات په دې عقيده چي افغانستان، د شوروي اتحاد د سقوط په صورت کي، پر هند باندي يرغل کولو ته تيار دی. د برتانيي او هند قواوو له افغانستان سره د پولي په اوږدو کي ټانکونه او نور درانه وسايط ځای پر ځای کړل. ځيني قطعو خو تمرينات وکړل او داسي يې وښودله چي د جرمني قواوو ته به په افغانستان کي تود هرکلی وويل سي.

د ۱۹۴۱ کال د اکتوبر په مياشت کي، برتانيي او شوروي اتحاد، چي له هيټلر سره د افغانستان خواخوږی ستړي کړي وه، له افغانستان څخه يوه ګډه غوښتنه وکړه چي د محور د هيوادونو ټول غيررسمي اتباع دي اخراج کړي. د هاشم خان حکومت په دې خبر وو چي متحدينو د اپرېل په مياشت کي په عراق کي ښورښ ځپلی او برتانيي او شوروي اتحاد د آګست په مياشت کي ايران سره وېشلی دی او افغانستان د وارداتو لپاره. له هند څخه پرته بله لار نه لري. نو د برتانيي او شوروي اتحاد د غوښتني منلو ته مجبور وو. هاشم خان د دې فيصلي د عملي کولو د مسوولیت بار وانه خيست او لويه جرګه يې را وبلل. لويی جرګي د متحدينو له راضي ساتلو سره موافقه وکړه مګر دا يې زياته کړه چي افغانستان به پر خپله بيطرفي باندي نور تېری ونه زغمي. هاشم خان، متحدينو ته په خپل رسمي جواب کي، له دې امله شکايت وکړ چي د قبايلو د کړارولو او د محور د هيوادونو د تبليغاتو په مخنيوي، او د معلومو جواسيسو په نيولو او د ريښتوني بيطرفی په تعقيب کي د ده کوښښونو ته هيڅ توجه نه ده سوې.

د افغانستان بيطرفی، د لومړي نړی وال جنګ په څېر، برتانيي ته دا امکان برابر کړ چي په هند کي د خپلو عسکرو شمېر کم کړي او مختلفو جبهو ته قواوي ولېږي. دغه راز يې د برتانيي پوځيان د داخلي عملياتو ځپلو ته فارغ کړل، چي په هند کي د برتانيي سره د مخالفت د ځرګندولو او استقلال غوښتلو لپاره يې جدي ښه غوره کړې وه. د ۱۹۳۹



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

کال د سپټمبر په میاشت کې، چې جرمني پر پولینډ باندې یرغل وکړ نو وایسرا لارډ لینلیت ګو Lord Linlithgow جرمني ته د جنګ اعلان ورکړ. څرنګه چې په هند کې ویسرا، له کانګریس سره، د مشورې پرته دا عمل کړی وو نو مخالف ګوند یې په غوسه کړ. پر جنوب ختیځه اسیا باندې د جاپان حملې، په هند کې د استقلال مبارزې ته نور هم زور ورکړ او صدراعظم چرچل مجبور سو چې د هند پر وضع باندې له سره غور وکړي. صدراعظم، سرستافورډ کریپس هند ته د جنګ د کابینې له هغې اعلامیې سره واستاوه چې له جنګ څخه وروسته یې د اصلاحاتو ژمنه کوله. کریپس د کانګریس دا غوښتنه ومنله چې د اساسي قانون د جوړولو لپاره به یوه منتخبه شورا راغواړي او په دې وسیله یې د برتانیې له خوا د هند د بشپړ استقلال غوښتنه ومنله. د ده په دغه پېشنهاد کې بېلو بېلو ولایتونو او ایالتونو ته دا واک ورکړه سوی وو چې که یې چیرې زړه وغواړي له هند څخه مستقل دریځ غوره کولای سي.

نور بیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ